# دافغانستان اسلامي جمهوريت
## دعدليې وزارت

# رسمي جريده

### فوق العاده ګڼه

د هوا د ککړتيا د راټيټولو او مخنيوی مقرره

مقررۀ کاهش و جلوگيری از آلودگی هوا


د خپرېدو نېټه:د ۱۳۸۸ هـ .ش کال د زمري د مياشتې (۲۰)

پرله پسې نمبر: (۹۹۱)

تاريخ نشر : (۲۰) اسد سال ۱۳۸۸ هـ . ش

نمبر مسلسل: (۹۹۱)

**در این شماره :**

## مقررهٔ کاهش و جلوگیری از آلودگی هوا.


**د امتیاز خاوند: دعدليې وزارت**

مسئول چلوونکی : حیدر "محقق"

۰۷۰۰۰۸۸۱۲۸

د دفتـــر تیلـــفون : ۲۱۰۳۳۷۵

مـــرستـــــیـــــال: نور علم

۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸

مهتــــــمــــــم: محمد جان

۰۷۰۰۳۹۵۲۹۲

وب ســـــــایت : www.moj.gov.af

قیمت این شــــــماره : (40) افغاني

تیـــــــــراژ چاپ اول: (4000) جلد

آدرس: وزارت عدليه، رياست نشرات، چهارراهي پشتونستان، کابل

## د هـــوا د ککړتيا د راټيټولو او مخنيوی دمقررې د انفاذ په هکله د افغانستان داسلامي جـــمهوريت د وزيرانوشوري مصوبه

ګڼه : (۱۸)
نېټه : ۱۳۸۸/۴/۲۹

دهوا دککړتيا د راټيټولو او مخنيوي مقرره چې په (٦) فصلونو او (۴۷) مادو کې د افغانستان د اســـلامي جمهوريت د وزيرانو د شوري لخوا په تصويب رسېدلې منظوروم .
دغه مقرره له مصوبي سره يوځاي په رسمي جريده کـــې د خپرېـــدو له نېټې څخه نافذيږي .

حامد کرزی
دافغانستان داسلامي
جمهوريت رئيس

## مصوبۀ شـــورای وزيران جمـــهوری اسلامی افغانستان دربارۀ انفاذ مقررۀ کاهش و جلوگيری از آلودگی هوا

شماره : (۱۸)
تاريخ: ۱۳۸۸/۴/۲۹

مقررۀ کاهش وجلوگيری از آلودگی هوا که بداخل (٦) فصل و(۴۷) ماده ازطرف شورای وزيران جمهوری اسلامی افغانـــستان بـــه تـــصويب رسيده است منظور می دارم .
اين مصوبه همـــراه بـــا مقـــرره از تـــاريخ نـــشر درجريـــدۀ رســـمی نافذ می گردد.

حامد کرزی
رئيس جمهوری اسلامی
افغانستان

## فهرست مندرجات

## مقررهٔ کاهش و جلوگیری از آلودگی هوا

## فصل اول

## احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ اول: | مبنی | ۱ |
| مادهٔ دوم: | اهداف | ۱ |
| مادهٔ سوم: | اصطلاحات | ۲ |
| مادهٔ چهارم: | منابع آلوده کننده هوا | ۵ |
| مادهٔ پنجم : | منع آلودگی هوا وتعیین حد مجاز آن | ۶ |


## فصل دوم

## وسایط نقلیه و سایر وسایل موتوردار


| | | |
|---|---|---|
| مادهٔ ششم: | تصدیق نامهٔ خاص | ۶ |
| مادهٔ هفتم: | ایجاد مراکز معاینات جلوگیری از آلودگی هوا | ۸ |
| مادهٔ هشتم: | تنظیم سیر وحرکت وسایط نقلیه | ۹ |
| مادهٔ نهم: | وضع ممنوعیت و محدودیت | ۹ |
| مادهٔ دهم: | اتخاذ تدابیر | ۱۱ |
| مادهٔ یازدهم: | کنترول فلتر | ۱۱ |
| مادهٔ دوازدهم: | تعیین اوقات عبور و مرور وسایط نقلیه | ۱۲ |

## فصل سوم

## فابریکه ها، کارخانه ها، منابع تجارتی وخانگی و متفرقه

مادهٔ سیزدهم: رعایت معیارهای محیط زیستی حین احداث.....۱۳
مادهٔ چهاردهم: اختصاص فضای سبز..........................۱۴
مادهٔ پانزدهم: استفاده از مواد احتراقی مناسب..............۱۵
مادهٔ شانزدهم: بدسترس گذاشتن ستندردها...................۱۶
مادهٔ هفدهم : تعیین میعاد رفع آلودگی.......................۱۷
مادهٔ هجدهم : تعطیل فعالیت.......................................۱۹
مادهٔ نزدهم : انتقال ...................................................۱۹
مادهٔ بیستم: اعلان معیارها.........................................۲۰
مادهٔ بیست ویکم: داشتن حق اعتراض............................۲۱
مادهٔ بیست ودوم: منع تورید مواد نفتی بی کیفیت..............۲۲
مادهٔ بیست وسوم: پخش و انتشار مواد آلوده کننده.............۲۲

## فصل چهارم

## کمیسیون عالی جلوگیری از آلودگی هوا

مادهٔ بیست وچهارم: ترکیب کمیسیون.................................۲۴
مادهٔ بیست وپنجم : وظایف وصلاحیت های کمیسیون.............۲۶
مادهٔ بیست وششم: مکلفیت وزارت صحت عامه ...................۲۸
مادهٔ بیست و هفتم: مکلفیت وزارت اطلاعات وفرهنگ.............۲۹
مادهٔ بیست و هشتم: مکلفیت وزارت امور خارجه....................۲۹

مادۀ بیست و نهم: مکلــفیــت وزارت مــخــابــرات وتکــنالــوژی مــعلوماتی ........................................۳۰
مادۀ سی ام: مکلفیت وزارت ارشاد، حج و اوقاف............۳۰
مادۀ سی ویکم: مکلفیت وزارت ترانسپورت وهوانوردی ملکی...۳۱
مادۀ سی ودوم : مکلــفیت وزارت هــای مــعارف وتــحــصیلات عالی.............................................۳۱
مادۀ سی وسوم: مکلفیت وزارت زراعت، آبیاری و مالداری......۳۲
مادۀ سی وچهارم : مکلفیت وزارت انرژی و آب.................۳۲
مادۀ سی وپنجم : مکلفیت سایر ادارات..........................۳۲

## فصل پنجم

## احکام مؤیدات

مادۀ سی وششم : تأدیب متخلفین وسایط نقلیه....................۳۳
مادۀ سی وهفتم: تأدیب مالک یا مسئول فابریکه یا کارخانه......۳۴
مادۀ سی وهشتم : تخلف و تعقیب عدلی..........................۳۵
مادۀ سی ونهم : تأدیب مالک یا مــسئول منابــع تجارتــی، خانگی و سایر منابع.......................۳۶
مادۀ چهلم : تأدیب ممانعت تفتیش..........................۳۷
مادۀ چهل ویکم : تأدیب متخلف..............................۳۷
مادۀ چهل ودوم : تعقیب عدلی مفتش ..........................۳۸

## فصل ششم

## احکام متفرقه


مادۀ چهل وسوم : تاریخ آغاز تطبیق ................................ ۳۸

مادۀ چهل وچهارم : صلاحیت مفتش ................................ ۳۹

مادۀ چهل وپنجم : تاریخ آغاز تفتیش................................ ۳۹

مادۀ چهل وششم : تحصیل جریمه های نقدی ........................ ۴۰

مادۀ چهل وهفتم : انفاذ.............................................. ۴۰

بسم الله الرحمن الرحیم

## د هوا د ککړتیا د راټیټولو او مخنیوي مقرره

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبنی**

**لومړۍ ماده:**

دغه مقرره د ژوند چاپېریال د قانون ددوه ویشتمې مادې د حکم پربنسټ اود اویایمې مادې د (۲) فقرې دحکم له په پام کې نیولوسره وضع شوې ده.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

ددې مقررې موخې عبارت دي له:

۱- د هو ا د ککړتیا او د ژوند چاپېریال د ویجاړوونکو عواملو راټیټول او مخنیوی.

۲- دانسان پرروغتیا او د ژوند

## مقررهٔ کاهش و جلوگیری از آلودگی هوا

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادهٔ اول:**

این مقرره به تأسی از حکم مادهٔ بیست ودوم و رعایت حکم فقره(۲) مادهٔ هفتادم قانون محیط زیست وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادهٔ دوم:**

اهداف این مقرره عبارت اند از:

۱- کاهش وجلوگیری از آلودگی هواو عوامل مخرب محیط زیست.

۲- جلوگیری ازاثرات سوء هوای

چاپېريا ل پرسلامت باندې دککــړې هوا له ناوړو اغېزوڅخه مخنيوی.

۳- دازادې هوا دفزيکي اوکيمياوي تغير( بدلون) ورکوونکو عناصرو له خپريدو او زيـــاتېدو څخه مخنيوی.

۴- د ژوند چاپېريــا ل د وضـــعې ښه والی.

**اصطلاحگانې**

**دریيمه ماده:**

پدې مقرره کې لاندې اصطلاحگانې دغه معناوې افاده کوي:

۱- دهوا ککړتيا: پــه آزاده هـــوا کـــې پداســـې انـــدازې او مـــودې ســـره دجامـــدو، مـــايع، گـــاز او تشعشعاتو په گډون د يوه يـــا څـــو ککړوونکو شتون او خپرېدل دي چې هغې ته داســـې بـــدلون ورکـــړي چې د انسان، حيوان، نبات او نورو ژونديو موجوداتوروغتيا اوسلامت ته زيانمن وي .

۲- دهوا ککړوونکي مواد: هرډول

آلوده بالای صحت انسان وسلامت محيط زيست.

۳- جلوگيری از انتشار و ازديـــاد عناصر تغييردهندۀ خواص فزيکـــی وکيمياوی هوای آزاد.

۴- بهبـــــود وضـــــع محـــــيط زيست.

**اصطلاحات**

**مادۀ سوم:**

اصطلاحات آتـــی در ايـــن مقـــرره معانی ذيل را افاده می نمايد:

۱- آلودگی هوا: وجود و انتـــشار يک يا چند آلوده کننـــده اعـــم از جامد، مايع، گازو تشعـــشعات در هوای آزاد بـــه مقـــدار و مـــدتی که کيفيت آن را طوری تغيير دهد کـــه بـــرای صـــحت وســـلامت انـــسان،حيوان، نبـــات وســـاير موجـــــودات زنـــــده مـــــضر باشد.

۲- مواد آلوده کنندۀ هوا:

جامـــــده مـــــاده، مايع،ګـــــاز، بخـــار او صـــوتي تشعـــشعات يـــا د هغو د ترکيب ټولګه ده چـــې پـــه ازاده هوا کې خپرېـــږي اود هـــوا د ککړېدو يا د ککړتيا د زياتېدو باعث کېږي لکه دود، دوده، معلقې ذرې، د ګـــوګړو اکــــسيدونه،د اوزون اکسيدونه، کاربن مونـــوا کـــسايد، اکـــــــسيدوونکي،هايدروکاربونونه، اسيدونه،امونياک او هغو ته ورته.

۳–د هوا دککړتيا مجاز حد: هغـــه حدود دي چې د ژونـــد چاپېريـــا ل ساتنې د ملي ادارې لخوا، په هوا کې د منلـــو وړ ککړتيـــا د انـــدازې د اکثرحد د ټاکلو لپاره مشخصېږي.

۴– مجاز نقليه واسطې: هغه نقليـــه واسطې دي چې د شپې او ورځې په ټولو ساعتونو کې د جادې په ترافيک کې شاملې دي اودځانګړي اجـــازه ليک لرلوته له اړتيا پرته تګ راتـــګ (سير او حرکت)کوي.

۵– سوداګريزې سرچينې:هغه ځايونه

هر نوع مادۀ جامد، مايع ،گاز، بخار، وتشعشعات صوتی يا مجموعه از ترکيب آنها که در هوای آزاد انتشار و باعث آلودگی يا ازدياد آلودگی هوا گرديده، مانند دود ، دوده، ذرات معلق، اکسيدهای گـــوگـــرد، اکسيدهای اوزون، مونواکسايد کاربن،اکسيد کننده ها، هايدروکاربن ها، اسيدها، آمونياک وامثال آن.

۳ – حد مجازآلودگی هوا: حدود است که ازطرف ادارۀ ملی حفاظت محيط زيست جهت تعيين حد اکثر ميزان قابل قبول آلودگی در هوا مشخص می گردد.

۴– وسايط نقليه مجـــاز: وســـايط نقليه است که درکليـــه ســـاعات شبارروزی شـــامل ترافيـــک جـــاده بوده و بدون نيـــاز بـــه داشـــتن اجازه نامۀ خاص ســـير وحرکـــت می نمايد .

۵ – منابع تجارتی:محلات است که

دي چې دمختلفـو سـوداګريزو او خدماتي فعاليتونو دسرته رسـولو اود توليـداتو، مـالونو او خـدمتونو د وړاندې کولو لپاره ترګټې اخيـستنې لاندې نيول کيږي،لکـه هوټلونـه، مېلمستونونه، رستورانونه، د شيرينو پخلنځـــي، د ډوډۍ پخلنځـــي، حمامونه، د مالــدارۍ او چرګـــانو فارمونه، صنعتی مرکزونه، د حلالولو ځايونه، دځارويو د ساتنې ځايونـه ، روغتيايي مرکزونه اوهغو ته ورته .

٦- کورنيزې سرچينې: کورونـه، د استوګنې واحدونه او مجتمع ګانې او نور ثابت او ګرځند اسـتوګنځايونه چې يوازې داستوګنې لپاره ترګټـې اخيستنې لاندې نيول کېږی.

۷- متفرقه سرچينې: دنقليه واسطو او نـــورو موټـــور لرونکـــو وســـايلو، فـــابريکو، کارخـــانو، سوداګريزو او کورنيزو سرچينو پرته هغــه عملونــه دي چــې دهــوا دککرېدوباعث ګرځي لکه په آزاده

جهـت انجـام فعاليـت هــای مختلــف تجــارتی و خـــدماتی و نگهداری و عرضـۀ توليـدات، امـــوا ل و خـــدمات مـــورد استفاده قرار مـی گيـرد، ماننـد هوتلها، مهمانخانه ها، رستورانتها، شــيرينی پزيهـــا، نانوايیهـــا، حمامهـــا، فـــارم هـــای مالـــداری ومرغـــداری مراکـــز صـــنعتی، کشتارگاه ها، مؤسسات نگهداری حيوانات ، مراکز صحی وامثال آن.

٦- منابع خانگی : منازل، واحد ها ومجتمع هـــای مـــسکونی وســـاير امـــاکن ثابـــت وسياراســـت کـــه صـــرف بـــرای ســـکونت مورد استفاده قرار می گيرد.

۷- منابع متفرقه: غيــر از منـــابع وســـايط نقليـــه وسايروســـايل موتوردار، فابريکه ها، کارخانه ها ، منابع تجارتی و خانگی اعمالی است کـــه موجـــب آلـــودگی هـــوا مـــی گـــردد ماننـــد ســـوختاندن

هوا کې د خځلو سوځول او د زياتي اوبوينو (متعفنو)موادو ټولول.

٨- ځانګړی تصديق ليک: دهوا دککړتيا په اړه ليکلی سند دی چې دهوا له ککړېدو څخه د مخنيوي د مرکزونو لخوا په لګوونکې (برچسب)توګه صادر او د نقليه واسطو پرمخ نښلول کېږي.

٩- د هوا له ککړتيا څخه د مخنيوي دکتنو مرکزونه :هغه مرکزونه دي چې ددې مقررې د حکمونو مطابق، د هوا د ککړتيا د مجاز حد د ټاکلو لپاره د موتور لرونکو نقليه واسطو د ازمويلو او کتنې په منظور، جوړېږي.

## د هوا ککړوونکې سرچينې

**څلورمه ماده:**

د هوا ککړوونکې سرچينې عبارت دي له:

١- نقليه واسطې اونور موتور

زباله ها وانباشتن مواد زايد ومتعفن در هواى آزاد.

٨- تصديق نامهٔ خاص : سند کتبى است مبنى بر رعايت حد مجاز آلودگى هوا که ازطرف مراکز معاينات جلوگيرى از آلودگى هوا به صورت برچسب صادر و بر روى وسايط نقليه نصب مى شود .

٩- مراکزمعاينات جلوگيرى از آلودگى هوا: مراکز است که به منظور آزمايش ومعاينه وسايط نقليهٔ موتوردار جهت تعيين حد مجاز آلودگى هوا مطابق احکام اين مقرره ايجاد مى شود.

## منابع آلوده کنندهٔ هوا

**مادهٔ چهارم:**

منابع آلوده کنندهٔ هوا عبارت اند از:

١- وسايط نقليه وسايروسايل

لرونكي وسايل.

۲- فابريكې، كارخانې او وداګريزې اوكورنيزې سرچينې اومتفرقه سرچينې.

**د هواد ككړتيا منع اود هغې د مجاز حد ټاكل**

**پنځمه ماده:**

(۱) له مجاز حد څخه زيات د هوا د ككړوونكو هر ډول موادو شيندل اوخپرول منع دي.

(۲) دژوند چاپېريال ساتنې ملي اداره د هوا د ككړتيا د خپرېدو مجاز حد ټاكي او تثبيتوي اود ټوليزو رسنيو له لارې يې عامه خبرتيا ته رسوي.

## دوه يم فصل

## نقليه واسطې اونور موتور لرونكي وسايل

**ځانګړې تصديق ليک**

**شپږمه ماده:**

(۱) د هغو نقليه واسطو سير او

---

موتوردار .

۲- فابريكه ها، كارخانه ها ومنابع تجارتی، خانگی و منابع متفرقه.

**منع آلودگی هوا وتعيين حد مجازآن**

**مادۀ پنجم:**

(۱)پخش و انتشار هرنوع مواد آلوده كنندۀ هوا بيش ازحد مجاز ممنوع می باشد.

(۲)ادارۀ ملی حفاظت محيط زيست حد مجاز انتشار آلودگی هوا را تعيين وتثبيت نموده و از طريق رسانه های همگانی به اطلاع عامه می رساند.

## فصل دوم

## وسايط نقليه و ساير وسايل موتوردار

**تصديقنامۀ خاص**

**مادۀ ششم:**

(۱) سير وحركت وسايط نقليه

حرکت او له نورو موتور لرونکو وسایلو څخه ګټه اخیستل چې له مجازحد څخه زیات دود او ککړوونکې مواد په هوا کې خپروي، منع دي.

(۲) د نقلیه واسطو او نورو موتور لرونکو وسایلو مالکان او چلوونکي مکلف دي، اړوند نقلیه واسطې او موتور لرونکي وسایل د تصفیې (فلتر) په آله سنبال کړي.

(۳) د نقلیه واسطو او نورو موتور لرونکو وسایلو مالکان او چلوونکي مکلف دي، د هغو د سیراوحرکت یا له هغوڅخه د ګټې اخیستنې لپاره د ککړوونکو موادو د خپرولو د مجازحد د په پام کې نیولو په اړه ځانګړې تصدیق لیک د هوا له ککړېدو څخه دمخنیوي دکنتول له مرکزونوڅخه واخلي.

(۴)د موتور لرونکو نقلیه واسطو سیر او حرکت د هوا له ککړېدو څخه د مخنیوي دکنتوله مرکزونوڅخه ددې

واستفادۀ سایر وسایل موتوردار که بیش ازحد مجاز، دود ومواد آلوده کننده را در هوا منتشر می نماید، ممنوع است.

(۲) مالکین یا رانندگان وسایط نقلیه وسایر وسایل موتوردار مکلف اند، وسایط نقلیه یا وسیله موتودار مربوط را با آله تصفیه دود ( فلتر) مجهزنمایند.

(۳) مالکین یا رانندگان وسایط نقلیه وسایروسایل موتوردار مکلف اند، جهت سیرو حرکت یا استفاده از آنها تصدیقنامۀ خاص مبنی بر رعایت حد مجاز انتشار مواد آلوده کننده را ازمراکزمعاینات جلوگیری از آلودگی هوا اخذ نمایند.

(۴) سیروحرکت وسایط نقلیه موتوردار بدون داشتن تصدیقنامۀ مندرج فقره(۳) این ماده

مادې په (۳) فقره کې د درج شوي تصديق ليک له لرلوپر ته منع دی.

## دهواله ککړېدوڅخه دمخنيـوي دکتنو د مرکزونوجوړېدل

اوومه ماده:

(۱) دکورنيو چـارو وزارت مکلف دی دژوند چاپېريال سـاتنې دملـي ادارې او ښاروالیو په همکارۍ پـه مرکز او ولايتونوکې دهوا له ککړېدو څخه د مخنيوي د کتنـو مرکزونـه جوړ کړي.

(۲) مالکان يا چلوونکي مکلف دي په کال کې يوځـل اړونـده نقليـه واسطه، د هوا له ککړېدو څخـه د مخنيوي د کتنو په مرکزونـو کـې معاينه کړي او د فعاليت ځـانګړی تصديق ليک واخلي.

(۳) دهـوا لـه ککړېـدو څخـه د کتنو په مرکزونـوکې د موتـور لرونکو نقليـه واسـطو د معـاينې لګښتونه، د هغې تعرفې مطابق چـې

از مراکزمعاينـــات جلـــوگيری از آلودگی هوا، ممنوع می باشد.

## ايجاد مراکزمعاينات جلوگيری ازآلودگی هوا

مادۀ هفتم:

(۱) وزارت اموداخله مکلف است به مشوره وهمکـاری ادارۀ ملـی حفاظت محيط زيست و شاروالی ها مراکز معاينات جلوگيری از آلودگی هـــوارا در مرکـــز و ولايـــات ايجاد نمايد.

(۲) مالکين يا رانندگان مکلف اند سال يکبار واسطۀ نقليۀ مربـــوط را درمراکزمعاينـــات جلـــوگيری از آلـــودگی هـــوا، معاينـــه نمـــوده وتـــصديقنامۀ خـــاص فعاليـــت را اخذ نمايند.

(۳) مصارف معاينۀ وسايط نقليـۀ موتـــوردار در مراکـــز معاينـــات جلـــوگيری ازآلـــودگی هـــوا از نـــزد مالـــک يـــا رانندۀ

د کورنيو چارو وزارت او د ژوند چاپېريال ساتنې دملي ادارې لخوا برابره او د وزيرانو شورې په تصويب رسېږي، اخيستل کېږي.

## د نقليه واسطو د سير او حرکت تنظيم

**اتمه ماده:**

د ترانسپورت او هوايي چلند او د کورنيو چارو وزارتونه،ښاروالۍ ګانې او نورې اړوندې ادارې مکلفې دي، د نقليه واسطو سير او حرکت اود ښاري اوبار وړنې د لېږدونو سيستم داسې تنظيم کړي چې د هوا د ککړتيا پرکمولو برسېره، ښاري اړتياوو ته هم ځواب ووايي.

## دبنديز اومحدوديت وضع کول

**نهمه ماده:**

(۱)که چېرې د جوي ځانګړي کيفيت په علت، د ښارونو دهوا ککړتيا داسې حد ته ورسېږي چې د

وسایط نقلیه مطابق تعرفهٔ که توسط وزارت امور داخله و ادارهٔ ملی حفاظت محیط زیست تهیه و به تصویب شورای وزیران میرسد، اخذ می گردد.

## تنظیم سیروحرکت وسایط نقلیه

**مادهٔ هشتم:**

وزارت های ترانسپورت وهوانوردی ملکی و امور داخله، شاروالی ها وسایر ادارات ذیربط مکلف اند، سیر و حرکت وسایط نقلیه وسیستم انتقالات شهری وباربری را طوری تنظیم نمایند که برعلاوهٔ کاهش آلودگی هوا جوابگوی نیازمندی های شهری نیز باشد.

## وضع ممنوعیت ومحدودیت

**مادهٔ نهم :**

(۱) هرگاه به علت کیفیت خاص جوی، آلودگی هوای شهرها به حدی برسد که به تشخیص وزارت

روغتيا وزارت په تشخيص د انسان روغتيا او د ژوند چاپېريال سلامت سخت په خطر کې واچوي، دژوند چاپېريال ساتنې ملي اداره د کورنيو چارو د وزارت او ښاروالیو په همکاری د هوا ککړوونکو سرچینو ته زماني، مکاني او ډولیز (نوعي) لنډ مهاله بنديزونه او محدوديتونه وضع کوي او بې له ځنډه يې د ټولیزو رسنيو له لارې عامه خبرتیا ته رسوي.

(۲) ددې مادې په(۱) فقره کې په درج شوو حالاتو کې، ټول اړوند حقيقي او حکمي اشخاص مکلف دي، د وضع شوي لارښود مطابق عمل وکړي.

(۳) دژوند چاپېريا ل ساتنې ملي اداره کولی شي دهوا د ککړتيا د کمېدو په صورت کې، ددې مادې په (۱)فقره کې درج شوي بنديزونه او محدوديتونه لرې او د ټولیزو رسنيوله لارې يې

صحت عامه، صحت انسان و سلامت محيط زيست را شديداً به مخاطره بياندازد، ادارۀ ملی حفاظت محيط زيست با همکاری وزارت اموداخله وشاروالی ها، ممنوعيت ها يا محدوديت های مؤقت زمانی، مکانی و نوعی را برای منابع آلوده کننده هوا وضع نموده و بلا فاصله از طريق رسانه های همگانی به اطلاع عامه می رساند.

(۲)درحالات مندرج فقره(۱) اين ماده، تمام اشخاص حقيقی وحکمی ذيربط مکلف اند طبق رهنمود وضع شده، عمل نمايند.

(۳) ادارۀ ملی حفاظت محيط زيست می تواند درصورت کاهش آلودگی هوا ممنوعيت و محدوديت های مندرج فقرۀ(۱) اين ماده را رفع واز طريق رسانه های همگانی

عامه خبرتياته ورسوي.

**د تدبيرونونيول**

**لسمه ماده:**

د سوداګرۍ او صنايعو او د ماليې وزارتونه مکلف دي، د نقليه واسطو او نورو موتور لرونکو وسايلو او د هغوپه سون پورې د اړوندو پرزه جاتو د توليد او واردېدو په وخت کې دژوند چاپېريالېزو معيارونو له په پام کې د نيولو په منظور، لازم تدبيرونه ونيسي.

**دفلتر کنترول**

**يوولسمه ماده:**

(۱) د کورنيو چارو وزارت د ژوند چاپېريال ساتنې د ملي ادارې په همکارۍ مکلف دی، په نقليه واسطو او نورو موتور لرونکو وسايلو کې ددې مقررې د حکمونو مطابق د دود د تصفيې (فلتر) له ځانګړې آلې څخه ګټه اخيستل ترويج او کنترول کړي.

(۳)د کورنيوچارو وزارت مکلف

به اطلاع عامه برساند.

**اتخاذ تدابير**

**مادۀ دهم:**

وزارت های تجارت وصنايع وماليه مکلف اند به منظور رعايت معيارهای محيط زيستی حين توليد و توريد وسايط نقليه وساير وسايل موتورداروپرزه جات مرتبط به احتراق آنها، تدابير لازم را اتخاذ نمايند.

**کنترول فلتر**

**مادۀ يازدهم:**

(۱) وزارت امور داخله به همکاری ادارۀ ملی حفاظت محيط زيست مکلف است استفاده ازآله مخصوص تصفيه دود (فلتر) را در وسايط نقليه وساير وسايل موتوردار مطابق احکام اين مقرره ترويج و کنترول نمايد.

دی، د ژوند چاپېریال ساتنې د ملـــي اداري په همکارۍ دارونديې کړنلارې مطابق، د هوا د ککړتیا د مجاز حد د تثبیت په منظور، له عصري دستګاوو څخه په ګټې اخیستنې سره د نقلیــه واسطو او نوروموتور لرونکو وسایلو انجن معاینه او اړوندې نښې او علایم برابر او ولګوي.

## د نقلیه واسطو د تېرېدو راتېرېدو د وختونو ټاکل

دوولسمه ماده:

د کورنیو چارو وزارت مکلف دی، د ترانسپورت او هـــوايي چـلند د وزارت، ښاروالیو او د ژوند چاپېریال ساتنې د ملي اداري په همکـــارۍ، د ښارونو په دننه کې دنقلیه واسطو او نورو موتور لرونکو وسایلو د تیرېدو راتېرېدو وختونه وټاکي او د هو الــه ککړتیا څخـــه د مخنیـــوي دعـــالي کمېسیون له تأیید وروسته يې، تـــر تطبیق لاندې ونیسي.

(۲) وزارت اموداخله مکلف است به همکاری ادارهٔ ملـــی حفاظـــت محیط زیست انجن وسایط نقلیـــه وسایر وسایل موتوردار را با استفاده ازدستگاه های عصری بـــه منظـــور تثبیت حد مجاز آلودگی هوا طبـــق طرزالعمل مربوط معاینه و نشان ها وعلایم مربوط را تهیه ونصب نماید.

## تعیین اوقات عبـــور و مـــرور وسایط نقلیه

مادهٔ دوازدهم:

وزارت اموداخلـــــه مکلـــــف اســـت بـــه همکـــاری وزارت ترانـــــسپورت و هوانـــــوردی ملکـــی، شـــاروالی هـــا و ادارهٔ ملـــی حفاظـــت محـــیط زیـــست اوقـــــات عبـــــور و مـــــرور وسایط نقلیه را در داخـــل شـــهرها تعیین و بعد از تأیید کمیسیون عالی جلوگیری از آلودگی هـــوا مـــورد تطبیق قراردهند.

## دریم فصل

## فابریکې، کارخانې، سوداګریزې اوکورنیزې اومتفرقه سرچینې

**دجوړولوپه وخت کې دژوند چاپېریالیزومعیارونو په پام کې نیول**

**دیارلسمه ماده:**

(۱)د هر ډول فابریکې او کارخانې، هوایي ډګر او د بارونې ترمینال تأسیسول او جوړول او د هغو د ځای بدلول او پراختیا د نافذه تقنیني سندونوله په پام کې نیولوسره، د ژوند چاپېریال د قانون او د هغه د اړوندو مقررو د حکمونو مطابق، صورت مومي.

(۲) د کانونو د وزارت د پانګې اچونې د ملاتړ اداره (آیسا) او ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو تأسیساتو د جواز صادروونکې نورې اداري مکلفې دي، د جواز له

## فصل سوم

## فابریکه ها،کارخانه ها، منابع تجارتی وخانگی ومتفرقه

**رعایت معیارهای محیط زیستی حین احداث**

**مادۀ سیزد هم:**

(۱)تأسیس واحداث هرنوع فابریکه و کارخانه ، میدان هوائی و ترمینال بارگیری وتغییر محل وتوسعۀ آنها برعلاوۀ رعایت اسناد تقنینی نافذه مطابق احکام قانون محیط زیست ومقرره های مربوطۀ آن صورت می گیرد.

(۲) ادارۀ حمایت از سرمایه گذاری (آیسا)، وزارت معادن وسایر ادارات صادرکنندۀ جواز تأسیسات مندرج فقرۀ (۱) این ماده مکلف اند، قبل

صادرولو د مخه، پدې برخه کې د ژوند چاپېريال ساتنې د ملي ادارې موافقه واخلي.

(۳)دجوازلرونکي مکلف دي، ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو تأسیساتو د جوړولو ځای، د جواز د شرایطو مطابق وټاکي.

## دزرغونې فضا ځانګړې کول

**څوارلسمه ماده:**

(۱)د ښاري پرمختیا وزارت، ښاروالۍ ګانې او نورې اړوندې مراجع مکلفې دي، ددې مقررې د دیارلسمې مادې په (۱)فقره کې ددرج شوو تأسیساتو د نقشو د طرح او ترتیب په وخت کې په ښارونو، ښارګوټو او استوګنیزو مجتمع ګانوکې زرغونې اوپرانیستې فضاء ځانګړې او د ژوند چاپېریال ساتنې دملي ادارې له تأیید وروسته یې تطبیق کړي.

از صدور جواز، موافقهٔ ادارهٔ ملی حفاظت محیط زیست را در زمینه اخذ نمایند.

(۳)دارندگان جواز مکلف اند محل احداث تأسیسات مندرج فقرهٔ (۱) این ماده را مطابق شرایط جواز تعیین نمایند.

## اختصاص فضای سبز

**مادهٔ چهاردهم:**

(۱) وزارت انکشاف شهری ، شاروالی ها وسایرمراجع ذیربط مکلف اند حین طرح وترتیب نقشه های تأسیسات مندرج فقرهٔ (۱) ماده سیزدهم این مقرره شهرها، شهرک ها ومجتمع ها ی مسکونی فضای سبزوباز رامطابق احکام قانون محیط زیست اختصاص داده وبعد از تائید ادارهٔ ملی حفاظت محیط زیست تطبیق نمایند.

(۲)ښاروالۍ ګــانې اود فــابريکو، کارخانو، ښـــارګوټو، اســـتوګنيزو مجتمع ګانو،دچونې او د خــښتود داشونو او نورو عام المنفعه تأسيساتو مالکان او مسئولين مکلف دی، لږ تر لږه د مساحت په ســـلوکې لــس، زرغونې اوپرانيستې فضاء ته ځانګړی کړي اومناسبې ونې پکې کيږدي.

(۳)له فابريکو،کارخانو،ښارګوټـــو، استوګنيزومجتمع ګانو او نـــــورو عام المنفعـــه تأسيـــساتوڅخه ګټـــه اخيستنه،ددې مادې په (۲)فقره کې د درج شوي حکم له په پـــام کـــې نيولوورروسته صورت مومي.

## له مناسبو احتراقي موادو څخـــه ګټه اخيستل

**پنځلسمه ماده:**

ددې مقررې په څوارلسمه ماده کې درج شوي اشخاص اومراجع مکلف دي،دسون له هغو موادو او مناسب احتراقی سيستم څخه چــې پرهـــوا

(۲) شاروالی ها ومالکين ومسئولين، فابريکه ها، کارخانه ها، شهرکها، مجتمع های مسکونی،داشهای چونه وخشت پزی و ســـاير تأسيـــسات عام المنفعه مکلف اند حـــداقل ده فيصد مساحت رابرای فضای سبز و باز تخصيص داده و اشجار مناسب را درآن غرس نمايند.

(۳) بهره برداری از فابريکه هـــا، کارخانه ها، شهرکها، مجتمع های مـــسکونی وســـاير تأسيـــسات عام المنفعه بعد ازرعايـــت حکـــم منـــدرج فقـــرۀ (۲) ايـــن مـــاده صورت می گيرد.

## اســـتفاده از مـــواد احتراقـــی مناسب

**مادۀ پانزدهم:**

اشخاص ومراجـــع منـــدرج مـــادۀ چهاردهم اين مقرره مکلـــف انـــد ازمـــــواد ســــوخت وسيـــــستم احتراقـــی مناســـب کـــه اثـــرات

باندې د هغو ناوړې اغیزې له مجازحد څخه زیاتې نه وي، ګټه واخلي.

## دستندردونو په واک کې ورکول

**شپاړسمه ماده:**

(۱) د ژوند چاپیریال ساتنې ملي اداره مکلفه ده د اړوندو ادارو په همکارۍ دپاکې هوا دکیفیت ستندرد او ددې مقررې په څوارلسمه ماده کې له درج شوو تأسیساتوڅخه حاصل شوي ککړونکي ستندردونه چې په هره طریقه آزادې هوا ته واردېږي، دهرې سیمې لپاره او هوا اود هغو سیمو د ژوند چاپیریالیزو مناسباتو ته په پام سره، برابراو د غوښتونکو او اړوندو مسئولانو په واک کې ورکړي.

(۲) ددې مادې په(۱) فقره کې درج شوي ستندردونه د وزیرانو شورې له تصویب وروسته د اجراء وړ ګڼل کېږي.

سوء آن بالای هوا بیش از حد مجاز نباشد، استفاده نمایند.

## بدسترس گذاشتن ستندردها

**مادۀ شانزدهم :**

(۱) ادارۀ ملی حفاظت محیط زیست مکلف است به همکاری ادارات ذیربط ستندرد کیفیت هوای پاک و ستندردهای آلوده کنندۀ حاصل از تأسیسات مندرج مادۀ چهاردهم این مقرره که به هرطریق وارد هوای آزاد می گردند، برای هر منطقه وبا توجه به کیفیت هوا ومناسبات زیست محیطی آن مناطق، تهیه نموده و به دسترس متقاضیان ومسئولان مربوط قراردهد.

(۲) ستندردهای مندرج فقرۀ (۱) این ماده بعداز تصویب شورای وزیران مرعی الاجراء پنداشته می شود.

## د ککړتیا د لرې کولو دمودې ټاکل

اوولسمه ماده:

(۱) د ژوند چاپېریال ساتنې ملي اداره مکلفه ده،ددې مقررې په څوارلسمه ماده کې درج شوي تأسیسات چې هوا ککړوي، مشخص کړي اود ککړتیا د ډول او حد په ټاکلو سره یې دهغو مالکانو یا مسئولینو ته ابلاغ کړي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو تأسیساتو مالکان او مسئولین مکلف دي، د ژوند چاپېریال ساتنې دملي ادارې په ټاکل شوي وخت کې د هوا د ککړتیا لرې کولو ته اقدام وکړي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي مالکان یا مسئولین دهوا د ککړتیا د لرې کولو لپاره ټاکل شوی وخت کافي ونه بولي، کولی شي د ژوند چاپېریا ل

## تعیین میعاد رفع آلودگی

مادهٔ هفدهم:

(۱) ادارهٔ ملی حفاظت محیط زیست مکلف است، تأسیسات مندرج مادهٔ چهاردهم این مقرره را که هوا را آلوده می سازد، مشخص نموده وبا تعیین نوع وحد آلودگی به مالکین یا مسئولین آنها ابلاغ نماید .

(۲) مالکین ومسئولین تأسیسات مندرج فقره(۱) این ماده مکلف اند درموعد تعیین شدهٔ ادارهٔ ملی حفاظت محیط زیست به رفع آلودگی هوا اقدام نمایند.

(۳) هرگاه مالکین یا مسئولین مندرج فقرهٔ (۱) این ماده میعاد تعیین شده را برای رفع آلودگی هوا کافی ندانند، می توانند درخواست میعاد اضافی را به

ساتنې ملي ادارې ته د اضافي وخت غوښتنليک وړاندې کړي.

(۴) که چېرې ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوي مالکان يا مسئولين په ټاکل شوي وخت کې د هوا د ککړتيا لرې کولو ته اقدام ونکړي، د ژوند چاپېريا ل ساتنې ملي اداره کولی شي دهغوی فعاليت ودروي او قضيه د دلايلو په وړاندې کولو سره د تصميم د نيولو لپاره عدلي او قضايي مراجعو ته محول کړي.

(۵) ددې مادې په (۳) فقره کې درج شوي مالکان او مسئولين کولی شي، د ژوند چاپېريال ساتنې له ملي ادارې څخه د بيا اجازې له اخيستلو وروسته خپل فعاليت ته دوام ورکړي.

(٦)که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي مالکان يا مسئولين دژوند چاپېريال ساتنې دملي ادارې دابلاغ با وجود خپل فعاليت ته دوام

ادارۀ ملی حفاظت محيط زيست ارايه نمايند.

(۴) هرگاه مالکين يا مسئولين مندرج فقره (۲) اين ماده درميعاد تعيين شده به رفع آلودگی هوا اقدام نه نمايند، ادارۀ ملی حفاظت محيط زيست می تواند فعاليت آنهارا متوقف وقضيه را باارايه دلايل به مراجع عدلی وقضايی جهت اتخاذ تصميم مقتضی محول نمايد.

(۵) مالکين يا مسئولين مندرج فقره(۳) اين ماده می توانند بعد از اخذ اجازۀ مجدد از ادارۀ ملی حفاظت محيط زيست به فعاليت خويش ادامه بدهند.

(٦) هرگاه مالکين يا مسئولين مندرج فقرۀ(۱)اين ماده با وجود ابلاغ ادارۀ ملی حفاظت محيط زيست به فعاليت خويش ادامه يا

ورکړي يا له بيا اجازې اخيستلو پرته فعاليت پيل کړي، ددې مقررې د حکمونو مطابق مجازات کېږي.

## د فعاليت ځنډول

**اتلسمه ماده:**

دژوند چاپېريال ساتنې ملي اداره کولی شي په نا مناسبوجوي شرايطو او حالاتو کې، ددې مقررې په څوارلسمه ماده کې ددرج شوو تأسيساتو فعاليت چې ناوړه اغيزې ولري د هغو تر لرې کولو پورې، په بيړني توګه وځنډوي.

## لېږدونه

**نولسمه ماده:**

(۱)که چېرې ددې مقررې په څوارلسمه ماده کې ددرج شوو تأسيساتوله فعاليت څخه د راپيدا شوې ککړتيا راټيټول يا له منځه وړل دهغو د ټولو يا يوې برخې له لېږدېدو پرته شونتيا ونلري يا د هغوفعاليت

بدون اجازهٔ مجدد به فعاليت آغاز نمايند، مطابق احکام اين مقرره مجازات می گردند.

## تعطيل فعاليت

**مادهٔ هجدهم:**

ادارهٔ ملی حفاظت محيط زيست می تواند درحالات وشرايط جوی نامناسب، فعاليت تأسيسات مندرج مادهٔ چهاردهم اين مقرره را که اثرات سوء داشته باشد، به طورعاجل الی رفع آن تعطيل نمايد.

## انتقال

**مادهٔ نزدهم:**

(۱)هرگاه کاهش يا ازبين بردن آلودگی هوا ناشی از فعاليت تأسيسات مندرج مادهٔ چهاردهم اين مقرره بدون انتقال تمام يا بخشی از آنها امکان پذير نباشد ويا فعاليت آنها

دځايي اوسېدونکو روغتيا او سلامتيا له ګواښ سره مخامخ کړي، دژوند چاپېريا ل ساتنې ملي اداره داړوندو ادارو په همکارۍ، مناسبو ځايونو ته د هغو د لېږدولو طرح (ترجيحاً د استوګنې له سيموڅخه بهر) برابره اود وزيرانو شوري ته وړاندې کوي.

(۲) ددې مادې په (۱)فقره کې ددرج شوو تأسيساتو مالکان يا مسئولين مکلف دي، د وزيرانو شوري له تصويب وروسته داړوندو تأسيساتو د ټولو يا يوې برخې لېږدونو ته اقدام وکړي.

## دمعيارونواعلانول

**شلمه ماده:**

د ژوند چاپېريال ساتنې ملي اداره مکلفه ده، د ژوند چاپېريااليز لازم معيارونه داړوندو وزارتونو له لارې، ددې مقررې په څوارلسمه ماده کې ددرج شوو تأسيساتو لرونکو ته اعلان کړي.

صحت وسلامت ساکنين محل را به خطرمواجه نمايد، ادارۀ ملی حفاظت محيط زيست با همکاری ادارات ذيربط طرح انتقا ل آنها را به محلات مناسب( ترجيحاً خارج ازمحلات مسکونی) تهيه وبه شورای وزيران ارايه می نمايد.

(۲) مالکين يا مسئولين تأسيسات مندرج فقره(۱) اين ماده مکلف اند بعد ازتصويب شورای وزيران به انتقا ل تمام يا بخشی از تأسيسات مربوط اقدام نمايد.

## اعلان معيارها

**مادۀ بيستم:**

ادارۀ ملی حفاظت محيط زيست مکلف است معيارهای محيط زيستی لازم را از طريق وزارت های ذيربط به دارندگان جواز تأسيسات مندرج مادۀ چهاردهم اين مقرره اعلان نمايد.

## د اعتراض د حق لرل

**یوویشتمه ماده:**

(۱)ځایي اوسېدونکي کولی شي په یوازې سر یا په ټولیزه توګه، ددې مقررې په څوارلسمه ماده کې د درج شوو تأسیساتو د پروژو یا پلانونو چې له مجاز حد څخه زیات دهواد ککړتیا باعث ګرځي، پرعلیه، ددې مقررې د حکمونو مطابق، اعتراض وکړي.

(۲)ځایي اوسېدونکي مکلف دي دهغوفعالیتونوچې له مجازحد څخه زیات دهوادککړتیا باعث ګرځي،په لنډوخت کې دژوند چاپېریا ل ساتنې دملي ادارې ډېرنږدې دفترته خبرورکړي.

(۳)د ژوند چاپېریا ل ساتنې ملي اداره مکلفه ده،ددې مادې په (۱او۲)فقره کې په درج شوو حالاتو کې، ددې مقررې د حکمونو مطابق موضوع وڅېړي اولازم

## داشتن حق اعتراض

**مادۀ بیست ویکم:**

(۱) ساکنین محل می توانند به صورت انفرادی یادسته جمعی علیه پروژه ها و پلانهای تأسیسات مندرج مادۀ چهاردهم این مقرره که باعث آلودگی بیش ازحد مجاز هوا می گردد، مطابق احکام این مقرره اعتراض نمایند.

(۲)ساکنین محل مکلف اند از فعالیت های که باعث آلودگی بیش از حد مجاز هوا می گردد، به اسرع وقت به نزدیکترین دفتر ادارۀ ملی حفاظت محیط زیست اطلاع دهند.

(۳) ادارۀ ملی حفاظت محیط زیست مکلف است درحالات مندرج فقره های (۱و۲) این ماده مطابق احکام این مقرره به موضوع رسیدگی

تدبيرونه ونيسي.

**دبې کيفيته نفتي موادو د واردېدو منع**

**دوه ويشتمه ماده:**

(۱) هېواد ته دبې کيفيته نفتي موادو واردول بند دي.

(۲) د ماليې، سوداګرۍ اوصنايعو وزارتونه او د ستندرد ملي اداره مکلفه ده، ددې مادې په (۱)فقره کې درج شوي حکم تطبيق اوعامه خبرتيا ته ورسوي.

(۳) دسوداګرۍ اوصنايعو، ترانسپورت او د ملکي هوايي چلند وزارتونه، دماليې او کورنيو چارو د وزارتونو او د ستندرد د ملي ادارې په همکارۍ، د ډيزلواو پطرولو له سيستم څخه مايع ګازته دنقليه واسطو د بدلولو زمينه برابروي.

و تدابير لازم اتخاذ نمايد.

**منع توريد مواد نفتی بی کيفيت**

**مادهٔ بيست ودوم:**

(۱) توريد مواد نفتی بی کيفيت به کشور ممنوع است .

(۲) وزارت های ماليه وتجارت وصنايع و ادارهٔ ملی ستندرد مکلف اند حکم مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده را تطبيق وبه آگاهی عامه برسانند.

(۳) وزارت های تجارت وصنايع وترانسپورت وهوانوردی ملکی به همکاری وزارت های ماليه و امور داخله و ادارهٔ ملی ستندرد زمينهٔ تبديل سيستم وسايط نقليه را ازتيل ديزل وپطرول به گازمايع فراهم می نمايند.

## دککړوونکو موادو شيندل اوخپريدل

**درويشتمه ماده:**

(۱) په آزاده هوا کې د سوداګريزو، کورنيزو او متفرقه سرچينولخوا له مجازحد څخه زيات د هوا د ککړوونکو هر ډول موادو شيندل اوخپريدل، منع دي.

(۲) د سوداګريزو،کورنيزو او متفرقه سرچينو مالکان او مسئولين مکلف دي ددود، د ودې او په آزاده هواکې د نورو ککړوونکو موادو له خپريدوڅخه د مخنيوي لپاره د تدبيرونو نيولو په ترڅ کې، له مناسب سون څخه ترجيحاً له مايع ګازڅخه ګټه واخلي.

(۳)د سوداګريزو،کورنيزو او متفرقه سرچينو مالکان او مسئولين نشي کولی اړوندې فضلې په عمومي معابرو او پرانيستې فضاء کې ټولې يا وسوځوي.

## پخش وانتشار مواد آلوده کننده

**مادهٔ بيست وسوم:**

(۱) پخش و انتشار هر نوع مواد آلوده کنندهٔ هوا بيش از حد مجاز توسط منابع تجارتی ، خانگی ومتفرقه در هوای آزاد ممنوع است.

(۲) مالکين ومسؤلين منابع تجارتی، خانگی ومتفرقه مکلف اند ضمن اتخاذ تدابير لازم جهت جلوگيري از انتشار دود ، دوده و ساير مواد آلوده کننده در هوای آزاد، از سوخت مناسب ترجيحاً گاز مايع استفاده نمايند.

(۳) مالکين ومسئولين منابع تجارتی، خانگی ومتفرقه نمی توانند فضله های مربوط را در معابرعمومی و فضای باز انباشته يا حريق نمايند.

(۴) ښاروالۍ ګانې مکلفې دي د پخو خښتو په داشونو او حمامونو کې د ټايرونو او د نقليه واسطو د روغنياتو او پلاستيک له سوځولو څخه مخنيوی وکړي.

## څلورم فصل

## دهوا له ککړتيا څخه دمخنيوي عالي کمېسيون

### دعالي کمېسيون جوړښت

**څلېريشتمه ماده:**

د وزارتونو او اړوندو ادارو ترمنځ د هم غږۍ د تأمينولو او ددې مقررې دحکمونو له تطبيق څخه دڅارنې په منظور، د ژوند چاپېريال ساتنې دملي ادارې د عمومي رئيس تر رياست لاندې، د هوا له ککړتيا څخه د مخنيوي عالي کمېسيون په لاندې ترکيب سره جوړېږي:

۱- د عامې روغتيا وزارت معين، د مرستيال په توګه.

۲- د بهرنيو چارو وزارت

(۴) شاروالی ها مکلف اند از سوختاندن تایر و روغنیات وسایط نقلیه و پلاستیک در داشهای خشت پزی وحمام ها جلوگیری نمایند.

## فصل چهارم

## کمیسیون عالی جلوگیری از آلودگی هوا

### ترکیب کمیسیون

**مادۀ بیست و چهارم:**

به منظور تأمین هم آهنگی میان وزارتها و ادارات ذیربط ونظارت از تطبیق احکام این مقرره کمیسیون عالی جلوگیری از آلودگی هواتحت ریاست رئیس عمومی ادارۀ ملی حفاظت محیط زیست به ترکیب ذیل ایجاد می گردد:

۱- معین وزارت صحت عامه به حیث معاون.

۲- معین وزارت امورخارجه به

معين،دغړي په توګه.

۳- د کورنيو چارو وزارت معين، د غړي په توګه.

۴- دماليې وزارت معين، د غړي په توګه.

۵- د عدليې وزارت معين، د غړي په توګه.

۶- دسوداګرۍ او صنايعو وزارت معين، د غړي په توګه.

۷- دترانسپورت اود ملکي هوايي چلند وزارت معين، د غړي په توګه.

۸- د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت معين، د غړي په توګه.

۹- د ارشاد، حج او اوقافو وزارت معين، د غړي په توګه.

۱۰- دپوهنې وزارت معين، د غړي په توګه.

۱۱- دلوړو زده کړو وزارت معين، د غړي په توګه.

۱۲- د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ وزارت معين، دغړي په توګه.

حيث عضو.

۳- معين وزارت امور داخله به حيث عضو.

۴- معين وزارت ماليه به حيث عضو.

۵- معين وزارت عدليه به حيث عضو.

۶- معين وزارت تجارت وصنايع به حيث عضو.

۷-معين وزارت ترانسپورت وهوانوردی ملکی به حيث عضو.

۸- معين وزارت اطلاعات وفرهنگ به حيث عضو.

۹- معين وزارت ارشاد، حج واوقاف به حيث عضو.

۱۰- معين وزارت معارف به حيث عضو.

۱۱- معين وزارت تحصيلات عالی به حيث عضو.

۱۲-معين وزارت مخابرات وتکنالوژی معلوماتی به حيث عضو.

۱۳- دكرنـــۍ، اوبـــو لګولـــو او مالدارۍ وزارت معين، د غړي پـه توګه.

۱۴- دكليو د بيارغونې او پراختيـــا وزارت معين، دغړي په توګه.

۱۵- دښاري پرمختيا وزارت معين، د غړي په توګه.

۱۶- د اوبو او انرژۍ وزارت معين، د غړي په توګه.

۱۷- د كانونو وزارت معين، د غړي په توګه.

۱۸- كابل ښاروال، دغړي په توګه.

۱۹- دستندرد خپـــلواكې ادارې رئيس، د غړي په توګه.

## دكمېــــــسيون دنـــــدې او واكونه

**پنځه ويشتمه ماده:**

(۱) د هوا له ككړتيا څخه د مخنيوي عالي كمېسيون د لاندې سترو دندو او واكونو لرونكى دى:

۱- د هېواد پــه ســطح د هـــوا د

۱۳- معـــين وزارت زراعـــت، آبيـــاری ومالـــداری بـــه حيـــث عضو.

۱۴- معين وزارت احيا وانكشاف دهات به حيث عضو.

۱۵- معين وزارت انكشاف شهری به حيث عضو.

۱۶- معين وزارت انرژی وآب بـــه حيث عضو.

۱۷- معين وزارت معادن به حيث عضو.

۱۸- شاروال كابل به حيث عضو .

۱۹- رئيس ادارۀ مستقل ســتندرد به حيث عضو.

## وظـــايف وصـــلاحيت هـــای كميسيون

**مادۀ بيست وپنجم:**

(۱) كميسيون عـــالی جلـــوگيری از آلـــودگی هـــوا دارای وظـــايف وصلاحيت های عمدۀ ذيل می باشد:

۱- مطالعـــه و ارزيـــابی عوامـــل

ککړتيا د عواملو کتنه او ارزونه او د هغو د راټيټولو او مخنيوي په منظور، د لازمو تدبيرونو نيول.

۲- د هوا د ککړتيا د راټيټولو او مخنيوي په منظور، د عامه تبليغاتي او خبريدنې د پروګرامونوطرح کول.

۳- د هوا د ککړتيا د راټيټولو او مخنيوي په منظور، د وزارتونو او دولتي او غير دولتي اړوندو ادارو ترمينځ د هم غږۍ تأمينول.

۴- ددې مقررې دحکمونو د ښه تطبيق په منظور، د لايحو او کړنلارو وضع کول.

۵- دهوادککړتيا د راټيټولو او مخنيوي په هکله د شپږ مياشتني اوکلني رپوټ برابرول اود وزيرانو شوري ته د هغه وړاندې کول.

٦- د نورو هغودندو سرته رسول چې د وزيرانو شوري لخوا سپارل کېږي.

(۲)د هوا د ککړتيا د راټيټولو او

آلودگی هوا در سطح کشور و اتخاذ تدابير لازم جهت كاهش وجلوگيری از آن.

۲- طرح پروگرام های تبليغاتی واگاهی عامه به منظوركاهش وجلوگيری از آلودگی هوا.

۳- تأمين هم آهنگی ميان وزارت ها وادارات دولتی و غير دولتی ذيربط به منظور كاهش وجلوگيری از آلودگی هوا.

۴- وضع لوايح وطرزالعمل ها به منظورتطبيق بهتر احكام اين مقرره.

۵- ترتيب گزارش شش ماهه وسالانه اجراآت در مورد كاهش وجلوگيری از آلودگی هوا و ارايۀ آن به شورای وزيران.

٦- انجام سايروظايفی كه ازطرف شورای وزيران محول می شود.

(۲) طرز فعاليت كميسيون

مخنيوي دعالي کمېسيون دفعاليت ډول د هغې لايحې په واسطه چې دکمېسيون لخوا تصويبېږي، تنظيمېږي.

## دعامې روغتيا وزارت مکلفيت

شپږويشتمه ماده:

(۱) د عامې روغتيا وزارت مکلف دی، د دولتي روغتيايي مرکزونو فضلې داړوندو تخنيکي وسايلو په واسطه وسوځوي او په شخصي روغتيايي مرکزونو کې د هغوله سوځونې څخه څارنه وکړي.

(۲) د عامې روغتيا، کورنيو چارو، له مخدرو موادو سره د مبارزې او ماليې وزارتونه او نورې اړوندې ادارې مکلفې دي، هر يو په خپله اړونده ساحه کې د تېرې نېټې درملو، مخدرو موادو او په نورو ورته مواردوکې له هدريا حريق کولو دمخه، دمناسب ځای په هکله د ژوند چاپېريال ساتنې د ملي ادارې ليکلې

عالی جلوگيری از آلودگی هوا توسط لايحهٔ که از طرف کميسيون تصويب می شود، تنظيم می گردد.

## مکلفيت وزارت صحت عامه

مادهٔ بيست وششم:

(۱) وزارت صحت عامه مکلف است فضله های مراکز صحی دولتی را توسط وسايل تخنيکی مربوط حريق نموده و در مراکز صحی شخصی از حريق آن مراقبت نمايد.

(۲) وزارت های صحت عامه، امور داخله، مبارزه عليه مواد مخدر و ماليه و ساير ادارات ذيربط مکلف اند هريک درساحهٔ مربوط قبل از هدر کردن يا حريق ادويهٔ تاريخ گذشته، مواد مخدر وساير مواد مشابه در مورد محل مناسب موافقهٔ کتبی ادارهٔ ملی حفاظت محيط زيست را کسب

موافقه ترلاسه کړي.

### د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مکلفيت

اووه ويشتمه ماده:

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مکلف دی د ژوند چاپېريال ساتنې دملي ادارې په همکارۍ دهوا دککړتيا د زيانونو په هکله د عامه ذهنونو د تنوير برنامې برابرې اود ټوليزو رسنيو له لارې نشر او خپرې کړي.

### د بهرنيو چارو وزارت مکلفيت

اته ويشتمه ماده:

د بهرنيو چارو وزارت مکلف دی، ددې مقررې دحکمونو اود ژوند چاپېرياليزو نورو دستورالعملونو له په پام کې نيولوپه منظورچې دژوند چاپېريال ساتنې د ملي ادارې اود هوا د ککړتيا د راټيټولو او مخنيوي د عالي کمېسيون لخوا، وخت پر وخت صادرېږي، په افغانستان کې مېشتې

نمايند .

### مکلفيت وزارت اطلاعات وفرهنگ

مادۀ بيست وهفتم:

وزارت اطلاعات وفرهنگ مکلف است به همکاری ادارۀ ملی حفاظت محيط زيست برنامه های تنويری اذهان عامه را درمورد اضرارآلودگی هوا ترتيب و از طريق رسانه های همگانی پخش ونشرنمايد.

### مکلفيت وزارت امورخارجه

مادۀ بيست وهشتم:

وزارت امور خارجه مکلف است به منظور رعايت احکام اين مقرره وساير دستورالعمل های محيط زيستی که ازطرف ادارۀ ملی حفاظت محيط زيست وکميسيون عالی جلوگيری از آلودگی هوا وقتاً فوقتاً صادر می گردد، نمايندگی های

سياســـــي نماينــــــدګۍ او بــين المللـــي ســازمانونه پـــه ليکلي توګه له خپلي لارې خبرکړي.

**د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ وزارت مکلفيتونه**

**نهه ويشتمه ماده:**

د مخابراتو او معلوماتي تکنـــالوژۍ وزارت مکلـــف دی، د اســـتوګنې پـــه ســـيموکې د هـــوا د صـــــوتي خپـــــراوي يـــــا موجونو (تشعـــشعاتو)لـــه ککړتيـــا څخـــه د مخنيـــوي پـــه منظـــور، لازم تدبيرونه ونيسي.

**د ارشاد،حج او او قـــافو وزارت مکلفيت**

**دېرشمه ماده:**

د ارشـــــاد، حـــــج او اوقـــــافو وزارت مکلـــــف دی، د مـــــلا امامانو او خطيبـــانو پـــه واســـطه، د هـــوا د ککړتيـــا د مخنيـــوي په هکله، د موعـــظو او خطـــابو د

سياسی وسازمانهای بين المللی مقيم افغانـــــستان را از طريـــــق خويش طورکتبی مطلع نمايد.

**مکلفيـــت وزارت مخـــابرات وتکنالوژی معلوماتی**

**مادۀ بيست ونهم:**

وزارت مخـــابرات وتکنـــالوژی معلومـــاتی مکلـــف اســـت بـــه منظـــور جلـــوگيری از آلـــودگی انتـشارات يـــا امـــواج (تشعـــشعات) صـــوتی هـــوا در منـــاطق مـــسکونی تـــدابير لازم را اتخاذ نمايد.

**مکلفيت وزارت ارشاد، حـــج واوقاف**

**مادۀ سی ام:**

وزارت ارشـــاد،حج و اوقـــاف مکلـــف اســـت برنامـــه هـــای را مبنـــی برايـــراد موعظـــه هـــا وخطابـــه هـــا در رابطـــه بـــه جلـــوگيری از آلـــودگی هـــوا

کولو په اړه برنامې تنظيم اوعملي کړي.

### دترانسپورت او ملکي هوايي چلند وزارت مکلفيت

**يودېرشمه ماده:**

د ترانسپورت او ملکي هوايي چلند وزارت مکلف دی د هوا د ککړتيا د راټيټولو په منظور، د ښاري او باربري حمل او نقل د سازمانونو په هکله، ددې مقررې د حکمونو مطابق، تدابيري پلان برابر او تطبيق کړي.

### دپوهنې او لوړو زده کړو د وزارتونو مکلفيت

**دوه دېرشمه ماده:**

دپوهنې او لوړو زده کړو وزارتونه مکلف دي، د ژوندچاپيريال ساتنې دملي ادارې په همکارۍ دهوا دککړتيا اودهغې له ناوړو اغېزو څخه دزده کوونکو او محصلينو د خبرولو په

توسط ملاامامان وخطباء تنظیم وعملی نماید.

### مکلفیت وزارت ترانسپورت وهوانوردی ملکی

**مادۀ سی ویکم:**

وزارت ترانسپورت وهوانوردی ملکی مکلف است به منظور کاهش آلودگی هوا پلان تدابیری درمورد سازماندهی حمل ونقل شهری و باربری را مطابق احکام این مقرره ترتیب و تطبیق نماید.

### مکلفیت وزارت های معارف وتحصیلات عالی

**مادۀ سی ودوم:**

وزارتهای معارف وتحصیلات عالی مکلف اند به همکاری ادارۀ ملی حفاظت محیط زیست برنامه های مناسب را غرض آگاه ساختن متعلمین ومحصلین از اضرار آلودگی

غرض مناسبې برنامې برابرې او تطبيق کړي.

**دکرنې،اوبولګولواومالدارۍ وزارت مکلفيت**

**دري دېرشمه ماده:**

دکرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت مکلف دی، د مالدارۍ او چرګانو د فارمونو او نورو ورته تأسيساتو د جوړولو په وخت کې چې فعاليت يې د هوا د ککړتيا موجب شي، د ژوند چاپېريال ساتنې دملي ادارې موافقه ترلاسه کړي.

**د اوبو او انرژۍ وزارت مکلفيت**

**څلور دېرشمه ماده:**

د اوبو او انرژۍ وزارت مکلف دی، د موټور لرونکو وسايلو د اړوندو جنراتورونو د پلټنې په ترڅ کې د ژوند چاپېريال ساتنې ملي ادارې له پلټونکو سره همکاري وکړي.

هوا و اثرات سوء آن ترتيب وتطبيق نمايند.

**مکلفيت وزارت زراعت ، آبياری ومالداری**

**مادۀ سی وسوم:**

وزارت زراعت، آبياری ومالداری مکلف است حين احداث فارم های مالداری ومرغداری وساير تأسيسات مشابه که فعاليت آنها موجب آلودگی هوا گردد، موافقۀ ادارۀ ملی حفاظت محيط زيست را کسب نمايد.

**مکلفيت وزارت انرژی و آب**

**مادۀ سی وچهارم:**

وزارت انرژی وآب مکلف است حين تفتيش وسايل موتور دار (جنراتورهای مربوط) با مفتشين ادارۀ ملی حفاظت محيط زيست همکاری نمايد.

**د نورو ادارو مکلفیتونه**

**پنځه دېرشمه ماده:**

وزارتونه، دولتي او غیردولتي ادارې، مؤسسې، شرکتونه، سازمانونه او نور حقیقي او حکمي اشخاص مکلف دي ددې مقررې حکمونه اود ژوند چاپېریالیزنور دستورالعملونه چې د ژوند چاپېریال ساتنې د ملي ادارې اود هوا له ککړتیا څخه د مخنیوي د عالي کمېسیون لخوا وخت پر وخت صادرېږي، په پام کې ونیسي.

## پنځم فصل

## مؤیدې

**دنقلیه واسطو د سرغړوونکو تأدیب**

**شپږ دېرشمه ماده:**

دموتورلرونکې نقلیه واسطې مالک یا چلوونکی، ددې مقررې له حکمونو څخه د سرغړونې په صورت کې دژوند چاپېریال ساتنې دملي ادارې د پلټونکو لخوا په لاندې توګه نغدي

**مکلفیت سایرادارات**

**مادۀ سی وپنجم:**

وزارت ها و ادارات دولتی و غیر دولتی، مؤسسات، شرکت ها، سازمانها وسایر اشخاص حقیقی وحکمی مکلف اند احکام این مقرره وسایردستورالعمل های محیط زیستی راکه ازطرف ادارۀ ملی حفاظت محیط زیست وکمیسیون عالی جلوگیری از آلودگی هوا وقتاً فوقتاً صادر می گردد،رعایت نمایند.

## فصل پنجم

## مؤیدات

**تأدیب متخلفین وسایط نقلیه**

**مادۀ سی وششم:**

مالک یا رانندۀ واسطه نقلیه موتور دار درصورت تخلف از احکام این مقرره حسب ذیل از طرف مفتشین ادارۀ ملی حفاظت محیط

جريمه کېږي:

۱- ددې مقررې د شپږمې مادې په (۱) فقره کې ددرج شوي حکم څخه دسرغړونې په صورت کې، يو زر افغانۍ.

۲- ددې مقررې د شپږمې مادې په (۲او۳) فقره کې له درج شوي حکم څخه دسرغړونې په صورت کې، يو زرافغانۍ.

۳- ددې مقررې دشپږمې مادې په(۴)فقره کې له درج شوي حکم څخه دسرغړونې په صورت کې، څلور سوه افغانۍ.

۴- ددې مقررې دنهمې مادې په (۲) فقره کې له درج شوي حکم څخه دسرغړونې په صورت کې،حقيقي اشخاص، يو زر افغانۍ اوحکمي اشخاص پنځوس زره افغانۍ.

**د فابريکې يا کارخانې دمالک يا مسئول تأديب**

زيست جريمۀ نقدی می گردد:

۱- درصورت تخلف از حکم مندرج فقرۀ (۱) مادۀ ششم اين مقرره، مبلغ يکهزار افغانی.

۲- درصورت تخلف ازحکم مندرج فقرۀ (۲و۳) مادۀ ششم اين مقرره، مبلغ يکهزار افغانی.

۳- درصورت تخلف ازحکم مندرج فقرۀ (۴) مادۀ ششم اين مقرره ، چهارصد افغانی.

۴- درصورت تخلف از حکم مندرج فقرۀ (۲) مادۀ نهم اين مقرره، اشخاص حقيقی، مبلغ يکهزارافغانی و اشخاص حکمی مبلغ پنجاه هزارافغانی.

**تأديب مالک يا مسئول فابريکه يا کارخانه**

اووه دېرشمه ماده:

دفابريکې يا کارخانې مالک يا مسئول ددې مقررې له لاندې ياد وشوو حکمونوڅخه د سرغړونې په صورت کې، د ژوند چاپېريال ساتنې دملي ادارې د پلټونکو لخوا په لاندې توګه نغدي جريمه کيږي:

۱- ددې مقررې د(۱۳) مادې په (۱) فقره کې له درج شوي حکم څخه د سرغړونې په صورت کې، دوه سوه زره افغانۍ.

۲- ددې مقررې د(۱۳) مادې په(۳) فقره کې له درج شوي حکم څخه دسرغړونې په صورت کې، يو سلو پنځوس زره افغانۍ.

۳- ددې مقررې د (۱۴)مادې په(۲او۳) فقره کې له درج شوي حکم څخه د سرغړونې په صورت کې، شل زره افغانۍ.

مادۀ سی وهفتم:

مالک يا مسئول فابريکه يا کارخانه درصورت تخلف ازاحکا م آتی الذکر اين مقرره حسب ذيل از طرف مفتشين ادارۀ ملی حفاظت محيط زيست جريمۀ نقدی می گردد:

۱- درصورت تخلف ازحکم مندرج فقرۀ (۱) مادۀ سيزدهم اين مقرره، مبلغ دوصد هزار افغانی.

۲- درصورت تخلف ازحکم مندرج فقرۀ (۳) مادۀ سيزدهم اين مقرره،مبلغ يکصدوپنجاه هزارافغانی.

۳- درصورت تخلف ازحکم مندرج فقره های (۲و۳) مادۀ چهاردهم اين مقرره، مبلغ بيست هزار افغانی.

## سرغړونه اوعدلي تعقيب

**اته دیرشمه ماده:**

هغه حقيقي يا حکمي اشخاص چې ددې مقررې په دوه ويشتمه ماده کې د درج شوې حکم څخه سرغړونه وکړي، د قانون د حکمونو مطابق تر عدلي تعقيب لاندې نيول کېږي او بې کيفيته نفتي وارد شوي مواد مستردېږي.

## د سوداگريزو، کورنيزو او نورو سرچينو د مالک يا مسئول تأديب

**نهه دېرشمه ماده:**

د سوداگريزو، کورنيزو اومتفرقه سرچينو مالک يا مسئول ددې مقررې د درويشتمې مادې په (۱) فقره کې له درج شوی حکم څخه د سرغړونې په صورت کې، له احوالو سره سم د ژوند چاپېريا ل ساتنې د ملي ادارې دپلټونکو له خوا په لاندې توگه نقدي جريمه کېږي:

۱- د کورنيزو او متفرقه سرچينو

## تخلف وتعقيب عدلی

**مادۀ سی وهشتم:**

اشخاص حقيقی يا حکمی که ازحکم مندرج مادۀ بيست ودوم اين مقرره تخلف نمايند، مطابق احکام قانون مورد تعقيب عدلی قرارگرفته ومواد نفتی بی کيفيت وارد شده مسترد می گردد.

## تأديب مالک يا مسئول منابع تجارتی ،خانگی وسايرمنابع

**مادۀ سی ونهم:**

مالک يا مسئول منابع تجارتی، خانگی وساير منابع درصورت تخلف ازحکم مندرج فقرۀ (۱) مادۀ بيست وسوم اين مقرره، حسب احوا ل از طرف مفتشين ادارۀ مفتشين ادارۀ ملی حفاظت محيط زيست ذيلاً جريمۀ نقدی می گردد:

۱- مالک يا مسئول منابع خانگی و

مالک یا مسئول پنځه سوه افغانۍ.

۲- د سوداګریزو سرچینو مالک یا مسئول لس زره افغانۍ.

**دپلټنې دهیئت مخنیوي تأدیب**

**څلوېښتمه ماده:**

هغه حقیقي یا حکمي شخص چې دژوند چاپېریال ساتنې دملي ادارې د پلټونکو د پلټنې مخنیوی وکړي، یا یې په اجراآتوکې خنډ رامینځ ته کړي، د نومړو پلټونکو لخوا په لاندې توګه نغدي جریمه کېږي:

۱- له نمونې اخیستنې څخه د مخنیوي یا په هغې کې دلاس وهنې په صورت کې،لس زره افغانۍ.

۲- د هوا د ککړتیا د حد له ټاکلوڅخه د مخنیوي په صورت کې، پنځه زره افغانۍ.

۳- له حقیقت څخه د تشو معلوماتو د وړاندې کولوپه صورت کې، څلور زره افغانۍ.

متفرقه مبلغ پنجصد افغانی.

۲- مالک یا مسئول منابع تجارتی مبلغ ده هزار افغانی.

**تأدیب ممانعت تفتیش**

**مادهٔ چهلم:**

شخص حقیقی یا حکمی که مانع تفتیش مفتشین ادارهٔ ملی حفاظت محیط زیست گردد و یا در اجراآت آنها اخلال وارد نماید، ازطرف مفتشین مذکور حسب ذیل جریمهٔ نقدی می گردد:

۱- درصورت ممانعت از نمونه برداری ویا اخلا ل آن، مبلغ ده هزار افغانی .

۲-درصورت ممانعت ازتعیین حد آلودگی هوا، مبلغ پنج هزار افغانی.

۳-درصورت ارایهٔ معلومات عاری از حقیقت، مبلغ چهارهزار افغانی.

**د سرغړوونکي تأديب**

**يوڅلوېښتمه ماده:**

ددې مقررې په (۳٦، ۳۷، ۳۹ او ۴۰) ماده کې د درج شوو سرغړونو د تکرار په صورت کې، سرغړوونکي دوه برابره نغدي جريمه کېږي.

**دپلټونکي عدلي تعقيب**

**دوه څلوېښتمه ماده:**

که چېرې دژوند چاپېريا ل ساتنې د ملي ادارې پلټونکي د ورسپارل شوو دندوپه اجراء کې اهما ل (لټې) وکړي يا د سرغړوونکو سرغړونې پټې کړي، د قانون د حکمونو مطابق، ترعدلي تعقيب لاندې نيول کېږي.

## شپږم فصل

## متفرقه حکمونه

**د تطبيق د پيل نېټه**

**دري څلوېښتمه ماده:**

(۱)دنقليه واسطو مالکان او

**تأديب متخلف**

**مادۀ چهل ويکم:**

درصورت تکرار تخلفات مندرج مواد (۳٦، ۳۷،۳۹ و ۴۰) اين مقرره متخلف دوچند جريمۀ نقدی می گردد.

**تعقيب عدلی مفتش**

**مادۀ چهل ودوم:**

هرگاه مفتشين ادارۀ ملی حفاظت محيط زيست دراجرای وظايف محوله اهما ل ويا تخلف متخلفين راکتمان نمايند، مطابق احکام قانون مورد تعقيب عدلی قرار می گيرند.

## فصل ششم

## احکام متفرقه

**تاريخ آغاز تطبيق**

**مادۀ چهل وسوم:**

(۱) مالکين وارنندگان وسايط

چلوونکي مکلف دي ددې مقررې د انفاذ له نېټې څخه د اتو میاشتو مودې په ترڅ کې،اړوند حکمونه تطبیق کړي.

(۲) دفابریکو،کارخانو، سوداګریزو، کورنیزو او متفرقه سرچینو مالکان او مسئولین مکلف دي، ددې مقررې دانفاذ له نېټې څخه د دوو میاشتو مودې په ترڅ کې، اړوند حکمونه تطبیق کړي.

## د پلټونکي واک

**څلورڅلوېښتمه ماده:**

د ژوند چاپېریال ساتنې ملي اداره خپلې دندې اوواکونه، دژوند چاپېریال دقانون د اووه شپیتمې مادې دحکم مطابق اعمالوي.

## دپلټنې دپیل نېټه

**پنځه څلوېښتمه ماده:**

(۱) ددې مقررې په حکمونوکې ددرج شوو مکلفیتونو پلټنه او د هغو

نقلیه مکلف اند درخلال مدت هشت ماه از تاریخ انفاذ این مقرره احکام مربوط را تطبیق نمایند.

(۲) مالکین ومسئولین فابریکه ها ، کارخانه ها، منابع تجارتی، خانگی و متفرقه مکلف اند در خلال مدت دوماه از تاریخ انفاذ این مقرره، احکام مربوط را تطبیق نمایند.

## صلاحیت مفتش

**مادۀ چهل وچهارم:**

مفتش ادارۀ ملی حفاظت محیط زیست وظایف وصلاحیت های خویش را مطابق حکم مادۀ شصت وهفتم قانون محیط زیست اعمال می نماید.

## تاریخ آغازتفتیش

**مادۀ چهل وپنجم:**

(۱) تفتیش مکلفیت های مندرج احکام این مقرره

د سرغړوونکو تأديب، ددې مقررې د درې څلوېښتمې مادې په (۱او۲) فقره کې د درج شوې مودې له بشپړېدو وروسته پيل او تطبيقېږي.

(۲) دکورنيو چارو وزارت، ښاروالۍ ګانې اونورې اړوندې ادارې مکلفې دي، دژوند چاپېريال ساتنې دملي ادارې په همکارۍ،ددې مقررې په درې څلوېښتمه ماده کې په درج شوې موده کې ، دهغې دحکمونو د تطبيق په منظور، لازم تدبيرونه ونيسي اوعملي يې کړي.

## دنغدې جريموتحصيلول

**شپږڅلوېښتمه ماده:**

پدې مقرره کې درج شوې نغدې جريمې دهغې جلا تعرفې مطابق چې دژوند چاپېريال ساتنې دملي ادارې اومالیې وزارت لخوا ترتيبېږي، د ژوند چاپېريال ساتنې دملي ادارې د پلټونکو لخوا د کورنيو چارو د وزارت په همکارۍ تحصيل او د

وتأديب متخلفين آن بعد از اکمال ميعاد مندرج فقره های ( ۱و۲) مادهٔ چهل وسوم اين مقرره آغاز و تطبيق می گردد.

(۲)وزارت امور داخله ، شاروالیها وسایرادارات ذيربط مکلف اند به همکاری ادارهٔ ملی حفاظت محيط زيست درميعاد مندرج مادهٔ چهل وسوم اين مقرره تدابير لازم رابه منظور تطبيق احکام آن اتخاذ وعملی نمايند.

## تحصيل جريمه های نقدی

**مادهٔ چهل وششم:**

جريمه های نقدی مندرج اين مقرره طبق تعرفهٔ جداگانهٔ که ازطرف ادارهٔ ملی حفاظت محيط زيست و وزارت ماليه ترتيب می گردد، ازطرف مفتشين ادارهٔ ملی حفاظت محيط زيست به همکاری وزارت امور

دولت دوارداتو په حساب بانک تــه تحويلېږي.

انفاذ

اووه څلوېښتمه ماده:

دغه مقرره په رسمي جريده کــې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

داخله تحصيل وبه حساب واردات دولت تحويل بانک می گردد.

انفاذ

مادۀ چهل وهفتم:

اين مقرره ازتــاريخ نــشردرجريدۀ رسمی نافذ می گردد.

## اشتراک سالانه

**در مرکز و ولایات : (۸۰۰) افغانی**

**برای مامورین دولت : با ۲۵ فیصد تخفیف**

**براي متعلمين و محصلين با ارائه تصديق ، نصف قيمت**

**خارج از کشور (۲۰۰) دالر امریکایی**

# ISLAMIC REPUBLIC
# OF
# AFGHANISTAN
# MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

Extraordinary Issue

**Regulation on Decrease and Prevention of Air Pollution**

Date: ١١th *AUGUST.* ٢٠٠٩

ISSUE NO :(٩٩١)